# بدخشان

دغه غرنۍ ولايت چي د افغانستان په شمال ختيز کي پروت دی د ۲۸ ولسواليو څخه جوړشوی دی او د تاجکستان، چين او پاکستان سره ګډي پولي لري. د ولايت اصلي ژبه دري ده.

په دې ولايت کي بيخبنا کمزورې ده، پرله پسي طبيعي ناروي پيښيږي او ګڼ شمير خلک روغتياي ځارني، د ښاک اوبو او د انرژۍ سرچينو ته لاسرسی نلري. له دې کبله دغه ولايت د پخوا په شان د اقتصادي ودې او پراختيا په لاره کي د ځنډونو سره مخامخ کيږي. د بدخشان د ۹۶۰۰۰۰ تنو اوسيدونکو د پاره کرهنه د عايد يوه اصلي سرچينه ګڼل کيږي. سره له دې هم دا ولايت د طبيعي سرچينو او کانونو له پلوه بډای دی چي يوه برخه يي اوس ايستل کيږي.

کوچني غرني کلي د ولايت د ټرانسپورټ د شبکې سره نه دي نښلول شوي، او له دې امله د دې شبکې د پراخولو په موخه کار روان دی ترڅو بدخشان د افغانستان د نورو سيمو سره ونښلوي. د ولايت مرکز فيض آباد هم يو هوايي ډګر لري چي اوس د مرستندويو سازمانونو، د ملګرو ملتو، د افغان پوځ او سوداګريزو الوتنو له خوا کارول کيږي.

د ډيرو کلونو راهيسي د افغانستان سره د المان د همکارۍ پروګرام په بدخشان کي د پوهني، اداري اصلاحاتو، د قانون د واکمنۍ، اقتصادي پراختيا، د ناوريو د مخنيوي، خوراکي امنيت، او د ښاک د اوبو او د انرژۍ د برابرلو په ډګرونو کي کار کوي. يو زيات شمير بيخبناي نوښتونو مرسته کړيده چي بدلونونه منځته راشي او د اوسيدونکو د ژوند شرايط سمون ومومي.

په دغه برخه کي په بدخشان کي د افغانستان سره د المان د همکارۍ د پروګرام د فعاليتونو په باب يوه لنډه کتنه لوستلای شی.

Project:

د پولي پر سر د پراختيا او همکارۍ تينګښت

د افغانستان په شمال کي د پايښتونکي اقتصادي ودې تينګښت

د افغانستان په شمال کي پاکي اوبه

د افغانستان د خلکو دپاره د روغتيايي ځارني سمون

بريښنا د اقتصادی شاخص په توګه ـ د قانونی چوکاټ رامنځ ته کول او د پانګوني آسانتياوې

د افغانستان لپاره نوې کيدونکي انرژۍ

د ښوونې او روزنې د سکتور اصلاح کول – د ښوونکو دپاره نوې سټنډرډونه او درسي نصابونه

د ټولو ښاريانو دپاره حقوقي مصونيت

د افغانستان د شمال د ثبات جوړوني په موخه پياوړي حکومتي جوړښتونه

د پراختيا شفافه طرحه کول او پلې کول

دولتی ارګانونه د ټولني د استنادي ستنو په توګه

د سولې دپاره ځوانان

- English
- Deutsch
- دری